بسم الله الرحمن الرحیم

## د مسلمانانو د خلیفه په توګه پر حضرت عثمان د نظر توافق

**پوښتنه:**

السلام‌علیکم‌ورحمت‌الله‌وبرکاته!

د خلافت دولت په دستګاوو کتاب کې د کاندیدانو د محدودیت فقرې په ۳۱مه پاڼه کې داسې راغلي: «وروسته عبدالرحمن له پنځو پاتې کسانو سره بحث وکړ او هغه یې دوو تنو (علي او عثمان) ته محدود کړ. تر هغه وروسته خلکو رایه اچوونه وکړه او عثمان د خلیفه په توګه وټاکل شو.» په ۳۳مه پاڼه کې راغلي چې علي او عثمان یې ځانته راوغوښتل: «وروسته یې د علي لاس ونیو.» ولې یې د علي لاس ونیو، په داسې حال کې چې عثمان د خلیفه په توګه ټاکل شوی و؟ ستاسو ورور ابو عزیزی

**ځواب:**

وعلیکم‌السلام‌ورحمت‌الله‌وبرکاته!

هغه څه چې عبدالرحمن بن عوف ته څرګند و چې خلکو د خلیفه په توګه د علي ټاکل کېدل غوښتل، که د عمر او ابوبکر په څېر د هر څه په تړاو حکم وکړي چې هغوی حکم کړی و، که دغه قضیه د هغوی د خلافت په وخت کې پېښه شوې وي، نو علي په دې شرط موافقه ونه کړه، خو عثمان موافقه وکړه. په دې وخت کې عثمان خلیفه وټاکل شو او په ټوله کې حضرت عمر شپږ تنه د خلافت پوستې لپاره کاندیدان کړل. وروسته عبدالرحمن ابن عوف خپل ځان له لېسته بهر کړ، له پنځو تنو سره یې خبرې وکړې او هغوی یې دوو تنو ته ورسول.

حضرت علي او حضرت عثمان نور کسان وکیلان ونیول، وروسته یې له خلکو د نظر غوښتنه وکړه او د خلکو نظر دا شو چې عثمان به خلیفه شي، خو دا خبره دا مسله نه واضح کوي چې عثمان د

همدې مشورې په ترڅ کې خلیفه وټاکل شو؛ بلکې د علي د رد او د عثمان د منلو له کبله عثمان خلیفه وټاکل شو. ټول گمان کوي چې د (استطلع رائی الناس) او (استقر الرائی علی عثمان خلیفه) کلمو په منځ کې د عطف توری (و) د عطف لپاره ترتیب دی. په داسې حال کې چې داسې نه ده. ځکه عطف توری (و) یوازې د عطف مفهوم وړاندې کولی شي. نو که ووایو: عمر او خالد راغلل؛ دا جمله دا مانا نه رسوي چې دواړه یوځای راغلي دي، دا مانا لري چې یو پر بل پسې راغلي دي. د بېلگې په توگه، یو تر غرمې وړاندې او بل تر غرمې وروسته راغلل. په همدغه ډول دې جملې د خلکو رایه واخیسته. یعنې په شپه کې دا کار پای ته ورسېد او عثمان د خلیفه په توگه وټاکل شو. د سهار تر لمانځه او له علي او عثمان څخه تر پوښتنې وروسته.

د توضح لپاره دا خبره کوم: عبدالرحمن د خلکو نظر واخیست او ویې لیدل چې خلک علي غواړي؛ که یې شرط ومني او یا نه. تر هغه وروسته عبدالرحمن علي او عثمان راوغوښتل، شرط یې علي ته وړاند کړ هغه ونه مانه. وروسته یې عثمان ته وړاندې کړ او هغه موافقه ورسره وکړه. وروسته پایله دا شوه چې د خلیفه په توگه رایه د عثمان په برخه شي.

هیله ده چې موضوع روښانه شوې وي.

**ستاسو ورور شیخ عطا بن خلیل ابوالرشته**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**